همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

افغانستان سره د آلمان همکاري

# روغتیايي ځارنې ته پاملرنه






## وضعیت

په افغانستان کې منځنی عمر په تیرو وروستیو کلونو کې د پاملرنې وړ زیاتوالی موندلی دی او اوس ٦٠ کلو ته رسیږي. خو د ماشوم د زیږدیو په مهال د مورګانو د مړینې کچه اوس هم لوړه ده یعنې په هرو ١٠٠٠٠٠ زیږیدنو کې ٣٩٦ میندي خپل ژوند له لاسه ورکوي په داسې حال کې چې دا رقم په المان کې یوازې څلور یا پنځه تنو ته رسیږي. همدارنګه په نړۍ کې افغانستان د ماشوم د مړینې یو ترټولو لوړې کچې لرونکی هیوادونو څخه یو هیواد شمیرل کیږي: په هرو ١٠٠٠ تنو نوي زیږیدلي ماشومانو کې، په لسو کې یو تن د پنځه کلنۍ نه مخکې مري. د پنځه کلنې نه کښته ماشومانو ٣٢ سلنه په سؤتغذي اخته دي. روغتیايي ځارنه، په تیره بیا د کابل نه بهر سیمو کې نابسیا ده. د هیواد زیات شمیر روغتیايي ځایونه زاړه شوي دي او سم تجهیزات نه لري.

| لنده کتنه | |
|---|---|
| پروګرام | په مزارشریف کې د بلخ د سیمه ایز روغتون د بیاجوړنې په لړ کې د مور او ماشوم د نوي روغتیايي مرکز ودانول (MCHC)<br>د مزارشریف په سیمه ایز روغتون کې د مور او ماشوم د روغتیايي ظرفیت مرکز د تاسیس دپاره د ظرفیت جوړول (MCHCC)<br>په فیض آباد کې د ولایتي روغتون د کچې لوړول<br>د بدخشان، کندز او تخار د ولایاتو په اوو موقعیتونو کې د روغتونونو او روغتیايي مرکزونو د کچې لوړول<br>د پولیو د رنځ د له منځه وړلو دپاره ملاتړ |
| دستور ورکوونکی | د المان د بهرنیو چارو وزارت<br>د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ)<br>د جاپان د نړیوالو همکاریو اداره (JICA)<br>د سویډن د نړیوالې پراختیا د همکاریو اداره (SIDA)<br>د ناروې حکومت |
| شریک | د افغانستان د عامې روغتیا وزارت |
| پلی کوونکی سازمانونه | د KfW پراختیايي بانک<br>Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH |
| ولایت | بدخشان، بلخ، کندز، تخار |
| د پروګرام موخه | د روغتون د عصري بیخبنا، د روغتون د منجمنت د سیستمونو او په مناسبه توګه روزل شوي پرسونل په لرلو سره د روغتیا د یو ښه فعاله سیستم په واسطه د افغانستان په شمال کې د خلکو روغتیايي ځارنې ته سمون ورکول |



## موخه

د المان حکومت د هڅو په پایله کې د ښاري اوسیدونکو دپاره د بنسټیزې روغتیاي ځارنې په برابرولو کې پاییښتونکي سمونیتاوې منځته راغلي دي لکه د روغتون د عصري بیخبنا، د روغتون د منجمنت د سیستمونو او د روزل شوي پرسونل په لرلو سره د روغتیا د یو ښه فعاله سیستم جوړول.

## اقدامونه او پایلې

د KfW پراختیايي بانک د المان د بهرنیو چارو د وزارت په استازیتوب د ٢٠٠٦ کال راهیسې د افغانستان په شمال کې د روغتیايي ځارنې د ودانیو د بیاجوړولو، نوي کولو او پراخولو او د نویو ودانیو په جوړولو کې زیارباسي. د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ته د روغتیايي ځارنې په برابرولو کې سلامشوره ورکوي او د هغه سره د مور او ماشوم د روغتیايي ظرفیت د مرکز په ودانولو کې مرسته کوي. برسیره پردې، د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) د ٢٠١٤ کال راهیسې د پولیو د رنځ د ورکولو سره د مرستې په لاره کې کار کوي.

### سیمه ایز روغتون او د مور او ماشوم د روغتیايي ظرفیت مرکز

#### د روغتون بیاجوړونه

وروسته له دې چې د مزارشریف په مرکز کې د بلخ سیمه ایز روغتون د اورلګیدلو له امله ویجاړ شوی وو، یو ستر نوی روغتون، چې ٣٦٠ کټونه، د جدي مراقبت ٢١ کټونه، د عملیات اووه کوټې، د اکسریز او لابراتوري تشخیص یونټ، د پیښنو او بیړني سرویس




١٠ روغتونونه او روغتیايي مرکزونه ودان شوي او یا پراخول شوي دي

یونټ او د ټیلي میډیکل تجهیزات لري، ودان شو. دغه بیارغول شوی سیمه ایز روغتون د ۲۰۱۲ کال راهیسې بیرته په کار پیل کړی دی او د یوه مرکزي روغتون په توګه د ښار د ۳۵۰۰۰۰ تنو اوسیدونکو او د سیمه ایز روغتون په توګه د شاوخوا سیمو تر شپږو میلیونو وګړو چوپړ کوي.

## د ظرفیت سیمه ایز مرکز:

د مزارشریف روغتون د یوه تدریسي اکادمیک نهاد په توګه د نرسنګ او قابلې د مکتب په لرلو سره د ځوان طبی پرسونل او پرستاری د ماهرانو په روزلو کې یو عمده رول لوبوي. تر اوسه د دې روغتون ۵۰۰ تنو کارکوونکو په روزنیزو کورسونو، د دندې پر مهال عملي ښوونې او مشورتي ناستو کې ګډون کړی دی. په المان کې د فرایبورګ پوهنتون د نوموړي روغتون سره د روزنې په کار کې شریک دی.

## د منجمنت مشورتي خدمتونه:

جی آی زید د نوموړي روغتون مدیرانو ته د منجمنت د یوې عصري سیستم په رواجولو کې سلامشوره ورکوي. د نوموړي سیستم د پلی کولو په پایله کې د کار لړی له سره جوړې شوي دي، د ناروغانو د کار پراوونه نوي جوړشول، د کوټو او ځایونو ویشنه ښه شوه، د ناروغانو په باب معلومات ډیجیټال شول او د جنسونو د ساتنې، د فاضله مواد د رفع کولو او د تجهیزاتو د ترمیم کچه لوړه شوه. په ټولو شعباتو کې اجراآتو سمون وموند.

اوس یو مسلکي ټیم چې د ۱۲ تنو روزل شویو تخنیکراتو څخه جوړشویدی د تاسیساتو او تجهیزاتو د صحیح کار د تامین دنده په غاړه لري. نوموړی روغتون اوس کولای شي د ترمیم او ساتنې او ځارنې ټول کارونه په یوازې توګه ترسره کړي.

## د مور او ماشوم روغتیایي مرکز:

په ۲۰۱۶ کال کې د مور او ماشوم د یوه نوي روغتیایي مرکز د ودانولو کار پیل شو. دغه مرکز چې په پام کې ده د ۲۰۱۸ کال په نیمایي کې پرانیستل شي، شاوخوا ۳۰۰ کټونه به ولري چې وبه کولای شي خلکو ته ولادي مرسته او د ماشومانو روغتیایي مراقبت په ښه کیفیت عرضه کړي.

## د فیض آباد ولایتي روغتون

د KfW پراختیایي بانک په فیض آباد کې د ولایتي روغتون د نوي کولو او پراخولو کار پرمخ بیایي. د تشخیص او معالجې یو نوی مرکز ودان او په کار اچول شوی دی، او د یوې نوي ۷۶ بستریزې څانګې ودانیز کار اوس مهال روان دی. خپله روغتون هم په نوې بڼه سمبالیږي تر څو د بدخشان ولایت د شاوخوا یو میلیونو اوسیدونکو دپاره د یو ارجاعي روغتون په توګه چوپړشي. د دغه روغتون چارې د آغاخان د بنسټ له خوا پرمخ بوول کیږي. د روغتون مدیران د آغاخان د منجمنت په روزنیزو پروګرامونو او د روغتیا په آنلاین کورسونو کې ګډون کوي چې ځان د نویو دندو دپاره چمتو کړي. ددې روزنو یوه برخه د ناروې له خوا تمویلیږي که څه هم د مور او نوي زیږیدلیو ماشومانو د پاره د یو یونټ ودانیز کار چې د روغتون په پراختیایي پلان کې ځای لري، تر اوسه پیل شوی نه دی.

تر اوسه پورې د دغه روغتون د بستري او غیربستري معالجو شمیر د ۳۰ څخه تر ۵۰ سلنې پورې زیاتوالی موندلی دئ.

## په بدخشان، کندز او تخار کې اووه نور روغتونونه:

د بدخشان، کندز او تخار په شمالي ولایاتو کې اووه نور روغتونونه او روغتیایي مرکزونه جوړشوي او یا پراخ شوي دي او په اړونده طبي تجهیزاتو سمبال شوي دي. په نویو ودانیو کې د ناروغانو ځایونه، د عملیاتو خونې، او د اکسریز او لابراتوار څانګې شاملې دي. د کوچنیانو د ناروغیو، د مور او ماشوم د تغذیې، د لابراتواري تحلیل او تجزیې، تخنیکي څارنې او ساتنې او اداري چارو په باب د طبي کارکوونکو روزنه او سمبالونه هغوی ته د روغتیایي څارنې د برابرولو اړونده کاري پوهه او مهارتونه وربښي. د روغتیایي څارنې پورتني اووه نهادونه په پورتنیو دریو ولایاتو کې د شاوخوا خلورو میلیونو وګړو چوپړ کوي.

## د پولیو د رنځ له منځه وړل:

د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) د پولیو د رنځ د له منځه وړلو په موخه د افغانستان د د هڅو په لاره کې د دغه هیواد سره د مرستې دپاره په ټولیزه توګه ۴۰ میلیونه یورو برابروي. دا هیواد د ملګرو ملتونو د پولیو د رنځ د ورکولو په نوښت (GPEI) کې برخ اخلي. المان د روغتیا د نړیوال سازمان (WHO) او د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق (UNICEF) نوښتونه، لکه د خولې له لارې د پولیو د واکسینونو او د یخ ساتونکو ځنځیري وسیلو د پیریدلو اقدامونه، په هیواد کې د پولیو د ویروس د سرایت څارنه، او د تخنیکي ملاتړ کار، د نورو لوریو سره په شریکه توګه تمویلوي.

**د ۲۰۱۷ کال د جنوري میاشت**

اړیکه:

**ډاکټر اندریاس شنایدر**
په کابل کې د KfW د پراختیایي بانک مشر
ایمیل: andreas_2.schneider@kfw.de

**ډاکټر حمیده عَلَم**
د مزارشریف په سیمه ایز روغتون کې د مور او ماشوم د روغتیایي ظرفیت مرکز د تاسیس دپاره د ظرفیت جوړولو (MCHCC) د پروګرام مدیره
ایمیل: hamida.alam@giz.de

پلی کوونکی:
Implemented by
KfW
giz Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH